محمد داؤد مومند ۲۰۲۰/۰۹/۱۱

# د هیواد تاریخ ته یوه کره کتنه،

## د استاد قدرت الله حداد په قلم

د وګړو شخصیت پر تاریخ ولاړ دی او راتلونکی ژوند هم د تاریخ له مخې جوړیږي.

دا ټولې بد مرغې چې تاسې ګورئ لدې راولاړې شوې چې تاریخ ته سپک وکتل شول. څوانانو پردی ایدیالوژی ولوستلې، ولس، هیواد او ځانونه یې برباد کړل، که چیرې دوی له خپل تاریخ نه زده کړای وای، هغه څه چې پیښ شول، نه پیښیدل.

د افغانستان تاریخ دوی غوری برخې لری: مخکې تر اسلامه او وروسته تر اسلام.

علی مسعودی ۱۱۰۰کاله دمخه، افغانستان ته راغلی وه، هغه وایی:

په بست، زمینداور او غزنی کې وروسته له لوی توفانه، به نړی کې لمړئ پادشاهی سوریانو جوړه کړه، د ملک حدود یې وټاکل، ونې یې وکرلې او ودانی ډیره شوه چې لمړی پادشاه یې « سوشان » نومیده.

په دې توګه هغه تاریخ چې موږ ۵۰۰۰ کاله بولو، ۷۰۰۰ کاله وړاندی درومی.

« تاین بی» په هغه اثر کې چې په ۱۹۷۳ میلادی کال لیکل شوی د افغانانو د قومونو موجودیت ۱۲۰۰۰ کاله دمخه ښیی او د «سور» «لوی» او «اور» مدنیتونه یادوی.

د مسعودی په کتاب کی ۳۲۳ شمسی د جدون، دودوانی، شیروانی او سوریانی یادونی شوی چی دا قومونه اوس هم شته.

کوشانیان وروسته کوچانیان یا کوچیان شوی دی، کوشانیان، لمړی سر کی، کډوال وو او دلته التباس شوی، لکه چې په کابل کی یوه کوڅه ده چې هغې ته بارانه وایی، چې له باران سره یې هیڅ اړیکه نه درلوده، اړه یې د « بار » سره وه. یا رستم دستان، رستم داستان ویل کیده، چې د داستان او کیسو سره یې اړه نه وه، دستان د شخص نوم وه. نو کوچیان که د کوچ سره ظاهری اړه ولری، مګر معنوی اړه نه لری. پښتو کی کډوال او کوچ ته لیږد وایی، دا هماغه کوشانیان دی چې له امپراتورئ وروسته بیرته کډوال شوی.

د سکا، ساک، ساکستان،سجستان او سیستان همغه لړی ده.

له نیکه مرغه د افغانانو د قومونو نومونه په عربی آثارو کی هم ژباړل شوی،ګر دومره ندی بدل شوی.

ایرانی لیکنو کی سیک ته سیخ وایی، حال دا چې دا هندی کلمه ده او زده کونکی ته وایه شی. پاملنه وکړئ دغد عباراتوته د مسعودی له کتاب څخه:

« مجاور مملکت شیروان، مملکت دیگری است که ایران نام دارد و پادشاه آنجا را ایران شاه نامند و هم اکنون شروان شاه بر این مملکت و مملکت دیگری بنام موقانی نیز تسلط یافته، جمعی از آن ها کافرند، مطیع شاه شروان نباشند و آنهارا دودانی گویند و بر یک سوی باب ابواب مملکتی است که جیدان نام دارد.»

مسعودی « برغر» « زرغون» « سیمه» او داسی نور نومونه یادوی او وایی چی د دکندهار پادشاه «حیج» نومیده. اوس شیروانی قوم شته خو شیروان شاه نشته، دودانی قوم شته خو هغه برم نشته« جیدان یا جیدون » قوم شته خو خپلواک هیواد یی ندی پاتی.

که چیری په همدغه برخه کی ځیرنی وشی، د افغان هر قوم د یوه مدنیت میراث دی.

وروسته تر اسلام نه، افغانستان کی پنځه تکله راغلی دی چی هر یو یی اوږد بحث لری او هغه دا دی:صفاری« سکزی» غزنوی« د ایران د دولت د رسمی اسنادو او ځینی نورو غیر دولتی معتبرور اسنادو له مخی د غزنویانو فتوحات د غلځو او تره کو، لخوا شوی وو» غوری« سور،شنسب،لودی» هوتک « غلځی» او ابدالی « درانی».

دی پنځو تکلونو کی چی له نهمی میلادی پیړی پوری ۱۱۰۰ کاله نیولی دی، د لوی افغانستان سیمه یوه شوی ده او پنځه پلا سیاسی او طبیعی سرحدونه سره یو شوی دی« د خزر له سمندرگی نه تر شمالی هندوستان پوری او له تبته د عربو د بحیری پوری».

بهرنی تاریخونه او تاریخ پوهان، هندی، ایرانی او نور ټول دغه پنځه تکله افغان بولی، مگر د افغانستان تاریخ پوهان او لیکوالان دا خبره نکوی او وایی چی د افغانستان نوم د اسلام نه وروسته « خراسان » وه.

حال دا چی خراسان په پنځه تکلونو کی د لوی افغانستان یو ایالت وه.

د نولسمی پیړۍ په پیل کی شاه محمود سدوزی او وزیر فتح محمد خان هغه له لاسه ورکړل.

دلته ما سره یو مهم ایرانی اثر پروت دی چی « گزیده اسناد سیاسی ایران و افغانستان » نومیږی، د محمد نادر نصیری مقدم په هڅه او د ایران د سیاسی او بین المللی ځیرنو د دفتر په ۱۳۷۴ شمسی هجری کال خپور شوی دی.

د کتاب په مقدمه کی نادر نصیری مقدم، د افغانستان جغرافیه او تاریخ ځیرلی دی، دده د کتاب سریزه زموږ د ډیرو لیکوالو او تاریخ پوهانو څخه سمه او ژوره لیکل شوی ده.

دا به هرو مرو سمه خبره نه وی چی د مرحوم غبار او مرحوم فرهنگ او نورو خبری په ایرانی لیک والانو او تاریخ پوهانو رد شی، مگر چاره څه ده؟

غبار او فرهنگ خپل دریځ په خپله ټاکلی دی.

د ۱۳۳۴ په لویه جرگه کی افغان مفکر محمد گل مومند وویل:

« څوک چی روس ته لاړشی، روس فیل شی، څوک چی جرمنی ته ولاړ شی، جرمن فیل شی، څوک چی امریکی ته ولاړ شی، امریکن فیل شی او داسی نور....افغان به چیرته روزل کیږی؟ داسی ښکاری چی کورنی تاریخ پوهانو ته په خپل وخت کی سم مآخذ په لاس ندی ورغلی، چی ملی تاریخ ولیکی.»

نادر نصیری مقدم، کله چی د افغانستان تاریخ بیانوی په ترتیب سره د بطلیموس له قوله وایی چی هغو زمانو کی د افغانستان نوم آریانا او بیا د باکتریا په نامه یاد شوی « باکتر، باختر،بلخ » دی، وایی زردشت هم په بلخ کی زیږیدلی دی.

تر سکندر وروسته یونانی باختر خپلواک هیواد جوړ شو.

بیا د کوشانیانو امپراتوری جوړه شوه( ۱۳۵ مخکی تر میلاده).

پدی امپراتورۍ کی صنعت او تجارت مخکی ولاړ او چین او روم سره وتړل شو( د وریښم لار).

بیا د یفتلیانو دولت جوړ شو( پیتل، ادال،ابدال).

وروسته تراسلام نه، په ترتیب سره پنځه تکله: صفاری، غزنوی، غوری، هوتک او ابدالی بیانوی.

که په ایران کی هخامنشیان وو، په افغانستان کی باختری دولت وه، که هلته ساسانیان وو، دلته ساکان و، د ساک، سکزی ( اوسنی ابراهیم خیل ) دولت وه، کوشانیان او یفتلیان وو.

د سلطان محمود په برخه کی وایی:« با افراشتن پرچم اسلام توانست، قبایل افغان را به جرگه سپاهیان خود بکشاند، و اینان بودند که طلایه داران لشکر سلطان محمود در حمله بر هندوستان و استیلای مسلمانان را بر این سرزمین تشکیل میدادند، گفتنی است در همین دوره بود که افغان ها همگی به دین اسلام گرویدند.» اوس، اوسنی لیکوال دی چی افغانستان د اسلامی دوری خراسان بولی.

نصیری مقدم وایی افغانان پر هند ورغلل او هغه هیواد یی د اسلام ځمکه کړه، چی همدا افغانی قبایل وه، په ۲۹ مخ کی لیکی:« فتح علی شاه قاجار چی خراسان ونیو، عباس میرزایی یی وگماره چی پر هرات یرغل وکړی» ټول بیان چی په کتاب کی راغلی دا خبره نکوی چی د افغانستان نوم خراسان و.

ددی کتاب اهمیت پدی کی دی چی د رسمی اسنادو له مخی لیکل شوی.

د جهاد په ټودو شپو او ورځو کی خراسان پورانو جهاد نه کاوه، د قدرت اخستلو دپاره یی وسلی او پیسی ساتلی وی. دا تنظیمی رهبران د پردیو د لاس آلی دی، له دوی څخه د انسانیت،اسلامیت او افغانیت تمه، ساده توب دی.

شپږم ټکل: اوس چی پنځم ټکل یعنی ابدالی ټکل ولاړ، گورو چی هیواد ورانیږی، وگړی وژل کیږی، پت او عزت یی ورکیږی، نو ای د یعقوب، محمود، غیاث الدین، بهلول، شیرشاه، بایزید روښان، خوشحال بابا، میرویس نیکه او ستر احمد شاه بابا زامنو ودریږی او شپږم ټکل جوړ کړی.

د پردیو مزدورانو ستاسی بچی ووژل، هستی او شته یی لوټ کړل، نه افغانستان جوړ شو، نه اسلامی دولت، نو موږ ته پیخه ده، که سترې یو که ټپیان، که بوډاگان یو که ځوانان، که تور سری یو که تور ږیری، یو دبل لاس ونیسو او شپږم ټکل جوړ کړو.

د خوشحال بابا ارمان پوره کړو، د میرویس نیکه شمله وساتو، د سوری شیر شاه بریت ورتاو کړو، د بهلول او احمد شاه بابا خولی او توره سمه کړو، محمود زغره ور په ځان کړو، د اشرف شاهی تاج بیرته وکړو او د امان الله د زړه ارمان پوره کړو.

میرسد مردی که زنجیر غلامان بشکند

دیده ام از روزن دیوار زندان شما

تذکر: سائق و انگیزه نشر یکی دو مقاله مرحوم استاد قدرت الله حداد که یک انسان وطن دوست، متواضع، مهذب، و منور بود، این است که چند روز قبل یک هموطن در دریچه افغان جرمن ضمن یک افسانه، استاد حداد را یکی از احمق ترین و لوده ترین انسان های افغانستان معرفی کرد.

منظوراز نشر این مقاله تاریخی، التجای دعوت و ابراز قضاوت هم وطنان منور و روشن ضمیر و دارای وجدان بی آلایش است، تا در پرتو محتویات این مضمون، به تفریق کذب و حقیقت نایل آیند.

آدمیت احترام آدمی

با عرض حرمت



که چیری غواړی د همدغه لیکوال نور مطالب ولولی، دلته کلیک وکړی